

# اباډي اوونیزه

هفته نامه آبادی

ABAADI ONLINE WEEKLY

د اقتصادي او ټولنیزو مسایلو په برخه کې
د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت خبري اوونیزه

ګڼه: ۴۸ | مسلسل نمبر: ۹۰

دوشنبه، د رمضان المبارک ۱۷مه، ۱۴۴۶ هـ.ق کال


## ملي تدارکاتو کمیسیون د شاوخوا ۲.۵ میلیارد افغانیو په ارزښت اته پروژې منظورې کړې



۲ صفحه

## افغانستان بهرنیو هیوادونو ته د غوښې صادرات پیلوي



۲ مه صفحه

## د کابل او تاشکند ترمنځ د اړیکو شالید او اوسنۍ اقتصادي اړیکې



۳مه صفحه



## سرلیکنه

د بغلان ولایت د دشت خواجه الوان څخه د کابل ولایت ارغندۍ ته د ۵۰۰ کیلو ولته برېښنا مزي د لېږد پروژې چارو کې ۷۵ سلنه پرمختګ شوی دی. د دې پروژې په بشپړېدو سره به له ترکمنستان څخه زر میګاواټه برېښنا وارده او د کابل د ګاونډیو ولایتونو په ګډون به په ۱۲ ولایتونو کې د برېښنا د کمښت ستونزه هواره شي.

انرژي په ځانګړي ډول برېښنا د اقتصادي ودې له پاره مهم فکتور بلل کېږي. د اقتصاد هر سکتور په یوه نه یو ډول انرژۍ ته اړتیا لري. که موږ غواړو انرژي تولید کړو، اړ یوو چې له طبیعي زیرمو، پرمختللي ټکنالوژۍ او بشري ځواک څخه ګټه پورته کړو. دغه راز د برېښنا د اړتیاوو پوره کولو له پاره کولای شو چې له نورو هېوادونو برېښنا وپیرو، ځکه هېڅ کار له برېښنا پرته سرته نه شي رسېدلی.

افغانستان همدې اړتیا ته په پاملرنې سره خپل د اړتیا وړ یوه اندازه برېښنا له ګاونډیو هېوادونو څخه واردوي. د ۱۴۰۲لمریز کال د لړم په ۲۴مه د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په حضور کې د شبرغان - دشت الوان د ۵۰۰ کیلوولټه مزي د پاتې چارو او همدارنګه د دشت الوان سب سټېشن د پراختیا پروژو د بشپړولو موافقتنامې لاسلیک شوې. هغه مهال د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال په همدې مناسبت جوړو شوو مراسمو ته وویل، د یو هېواد د اقتصادي ودې لپاره صنعت تر ټولو مهم دی، د نړۍ هغه هېوادونه چې له جګړو راوتلي او چټک اقتصادي پرمختګ یې کړی دی، اساسي لامل یې د صنعت پرمختګ دی. د صنعت پرمختګ لپاره بیا تر ټولو مهم فکتور برېښنا ده.

د اسلامي امارت هڅه داده چې د برېښنا د تولید د کورنیو سرچینو څخه د ګټې پورته کولو ترڅنګ له ځینو هېوادونو څخه د خپلې اړتیا وړ برېښنا وارده کړي. د وارداتي برېښنا د واردولو یو لامل دا دی چې په کور د ننه د برېښنا تولید وخت ته اړتیا لري، نو اړینه ده تر هغې چې په کور دننه د برېښنا د تولید پروژې ګټې اخیستنې ته سپارل کېږي، نبه داده چې برېښنا وارده شي. په همدې موخه اسلامي امارت غواړي چې هم په کور دننه د برېښنا د تولید پروژې عملي کړي او هم له بهر څخه برېښنا وارده او پر مټ یې د هېواد صنعت ته وده ورکړي.

که موږ او تاسو هغو هېوادونو ته وګورو چې نن سبا په نړۍ کې پرمختګ ته رسېدلي دي، دوی ټولو دغه پرمختګ د صنعت پر مټ ترلاسه کړی دی. نو موږ هم که غواړو چې خپل صنعت مو پرمختګ وکړي، اړ یوو چې برېښنا ورته چمتو کړو. پرته له برېښنا به ستونزمنه وي چې موږ دې په دې پرمختګ وکړو. په همدې موخه اسلامي امارت د ۵۰۰ کیلو ولته برېښنا د مزي غځولو چارې ګړندۍ کړې او اوسمهال یې چارې تر ډېره بشپړې شوې هم دي. په دې سره به نه یوازې د برېښنا په برخه کې د خلکو ستونزې هوارې شي، بلکې ورسره به د هېواد صنعت هم وغوړېږي. د صنعت په غوړېدو او پرمختګ سره به د هېواد اقتصادي پرمختګ هم حتمي شي.



ABAADI ONLINE WEEKLY

د اقتصادي او ټولنیزو مسایلو په برخه کې
د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت خبري اوونیزه

ابادي اوونیزه
هفته‌نامه آبادی

# ملي تدارکاتو کمېسیون د شاوخوا ۲.۵ میلیارد افغانیو په ارزښت اته پروژې منظورې کړې

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ ملي تدارکاتو کمېسیون د شاوخوا ۲.۵ میلیارد افغانیو په ارزښت د اتو پروژو قراردادونه منظور او د ۱۳ نورو یې تعدیل کړل. د ملي تدارکاتو کمېسیون نوبتي غونډې ته چې د روان ۱۴۰۳ لمریز کال د کب میاشتې په ۲۶مه نېټه په مرمرینه ماڼۍ کې جوړه شوې وه، له اجندا سره سم ۲۹ پروژې د بحث لپاره وړاندې شوې، چې له جملې یې د اتو پروژو قراردادونه منظور، د ۱۳ تعدیل، د دوو لغوه او شپږ پروژې په تدارکاتي پروسو کې د موجودو ستونزو له امله رد شوې. د یادو شپږو پروژو په اړه ټاکل شوو کمېټو ته دنده وسپارل شوه، څو د تدارکاتي پروسو د اصولو په پام کې نیولو سره یې قراردادونه و ارزوي او راپور یې د ملي تدارکاتو کمېسیون له مشرتابه سره شریک کړي. په منظور شوو او تعدیل شوو پروژو کې د کندهار ولایت د دهلې بند د ساتنې او پاملرنې چارو بشپړول، د کابل طبي پوهنتون د علي اباد روغتون کې د سرطاني ناروغیو د درملنې مرکز د پاتې چارو بشپړول، د کندهار ولایت په دامان ولسوالۍ او باغ پل سیمه کې د ترانسپورتي ترمینلونو جوړول، د کابل - کندهار لویې لارې د پاتې برخو بشپړول او یو شمېر نورې پروژې شاملې دي چې د اسلامي امارت له لوري تمویلېږي.



## اخبار اقتصادی هفته

### تکمیل سه پروژه بزرگ آبی در افغانستان؛ کار روی پنج بند دیگر ادامه دارد

وزارت انرژی و آب می‌گوید که سه پروژه بزرگ ساخت بندهای آب در کشور تکمیل شده‌اند. مطیع‌الله عابد سخن گوی این وزارت گفته که در حال حاضر پنج پروژه بزرگ دیگر نیز در حال اجرا است و انتظار می‌رود که در آینده نزدیک تکمیل شوند. او همچنین افزود که کار ساخت بند پاشدان هرات ۹۵ درصد پیش رفته است و بند پلتونی در پکتیا نیز تاکنون ۲۰ درصد پیشرفت داشته است. براساس اطلاعات ارایه شده این وزارت، بند شاه عروس با هزینه ۲۵۰ میلیون دالر ظرفیت آبیاری ۲۷۰۰ هکتار زمین، یک اعشاریه دو میگاوات برق، بند پاشدان با هزینه ۱۱۷ میلیون دالر ظرفیت آبیاری ۱۳ هزارجریب زمین، دو میگاوات برق، بندعمری با هزینه ۱۲۷ میلیون افغانی ظرفیت آبیاری ۵۶۰ هکتار زمین، شش کیلووات برق و بند پلتونی با ظرفیت آبیاری ۲۵۰۰ هکتار زمین، یک میگاوات برق دارند. مطیع‌الله عابد تاکید کرد: «پروژه‌های بزرگی که در سال جاری از سوی وزارت انرژی و آب اجرا شده‌اند که از آن جمله بندهای شاه عروس، بند عمری و کمال‌خان تکمیل و به بهره برداری سپرده شده‌اند.»

### افغانستان بهرنیو هېوادونو ته د غوښې صادرات پیلوي

د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ سرپرست وزیر عطاءالله عمري او د صنعت او سوداګرۍ وزیر نورالدین عزیزي بهرنیو هېوادونو ته د غوښې د صادراتو په اړه مشورتي غونډه کړې. د کرنې وزارت د خبر له مخې، دې کتنه کې د کرنې وزیر ویلي، څه باندې ۸۰ سلنه افغانان په کرنه او مالدارۍ بوخت دي، د غوښې صادرات ګټور تمامېدای شي، خو چې د څارویو نسل ته زیان ونه رسېږي.

عمري ویلي، لومړی باید د څارویو د تولید او پالنې پر زیاتوالي تمرکز وشي او له هغه وروسته د لوړ کیفیت صادرات تنظیم شي. دې کتنه کې د صنعت او سوداګرۍ سرپرست وزیر هم ویلي، ببلابېل هېوادونه له افغانستانه د غوښې اخیستلو ته لېواله دي، چې په خبره یې، د پسونو د روزنې کچه لوړه او د صادراتو مناسب شرایط برابر شي، تر څو مالداران ښه عواید ترلاسه کړي.





ABAADI ONLINE WEEKLY

د اقتصادي او ټولنیزو مسایلو په برخه کې
د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت خبري اوونیزه

اوونیزه
ابادي
هفته‌نامه آبادی


## مبادلات تجاری افغانستان و قزاقستان در ۱۱ ماه به بیش از ۴۳۰ میلیون دالر رسید

وزارت صنعت و تجارت آمار می‌دهد که در یازده ماه سال ۱۴۰۳ به ارزش بیش از ۴۳۰ میلیون دالر میان افغانستان و قزاقستان دادوستد شده است. آخندزاده عبدالسلام جواد سخن‌گوی وزارت صنعت و تجارت در این باره گفته است که ۴۵ میلیون دالر رقم یادشده را صادرات تشکیل می‌دهد. سخن‌گوی وزارت صنعت و تجارت افزود: «تجارت افغانستان با کشور قزاقستان در ۱۱ ماه سال ۱۴۰۳ به ارزش ۴۳۰ میلیون دالر بوده که از این میان ۴۵ میلیون دالر آن را صادرات و ۳۸۵ میلیون دالر آن واردات است.» قزاقستان که از جمله کشورهای دارای اقتصاد قوی در آسیای مرکزی شناخته می‌شود، پس از روی کار آمدن دوباره امارت اسلامی، روابط بازرگانی و اقتصادی اش را با افغانستان افزایش داده است.

## ۲۹۵ میلیون دالر؛ حجم تجارت افغانستان از طریق دهلیزهای هوایی در یک سال

وزارت صنعت و تجارت می‌گوید که در سال جاری، از طریق دهلیزهای هوایی افغانستان، به ارزش ۲۹۵ میلیون دالر با کشورهای جهان داد و ستد صورت گرفته است. آخندزاده عبدالسلام جواد سخن‌گوی این وزارت، می‌افزاید که از این مقدار، ۱۲۸ میلیون دالر آن را صادرات تشکیل می‌دهد. به گفته او، مهم‌ترین اقلام صادراتی افغانستان در این مدت شامل میوه‌های خشک، زعفران، عناب، جلغوزه سیاه، البسه جدید و صنایع دستی بوده است. سخن گوی وزارت صنعت و تجارت در این باره گفت: «صادرات افغانستان از طریق میدان‌های هوایی کابل، قندهار و بلخ به کشورهای اتریش، اردن، اسپانیا، امارات متحده عربی، اندونیزیا، انگلستان، امریکا، افریقای جنوبی، آلمان، چین، هند و سایر کشورها انجام شده که ارزش مجموعی آن به ۲۹۵ میلیون دالر می‌رسد.» اتاق تجارت و سرمایه‌گذاری، با اشاره به اهمیت انتقالات از طریق دهلیزهای هوایی، بر کاهش هزینه‌ها در راستای افزایش صادرات افغانستان تأکید دارد.



# د کابل او تاشکند ترمنځ د اړیکو شالید او اوسنۍ اقتصادي اړیکې

لیکوال: م. عبدالله عزام

په ۹۰یمه لسیزه کې واک ته د اسلامي امارت له رسېدو راهیسې د ازبکستان او امارت ترمنځ اړیکو بېلابېل پړاوونه وهلي دي. د نړۍ د نورو هېوادونو په څېر د افغانستان او ازبکستان تر منځ اړیکې هم د سیاسي تحولاتو له امله وخت نا وخت اغېزمنې او له منفي او مثبتو مرحلو تېرې شوې دي. کابل او تاشکند اوسمهال تر بل هر وخت د سیاسي اړیکو ترڅنګ په اقتصادي برخه کې ښې اړیکې لري. د اسلامي امارت د لومړۍ واکمنۍ پرمهال ازبکستان څکه څه نا څه خوابدی او ګیله‌من و چې د دوی په اند د تاشکند مخالفین لکه قاري طاهر جان یلداش، جمعه نمنګاني او یوشمېر نورو ازبکانو ګنې د اسلامي امارت په لیکو کې ځای درلود او ازبکستان ترې ګواښ محسوساوه. د عکس العمل په توګه ازبکستان هغه مهال له افغانستان سره خپله یوازینۍ د حیرتان بندر لاره د هر ډول تګ راتګ او سوداګرۍ پر مخ وتړله.

پر افغانستان د امریکا تر یرغل وروسته ازبکستان له اسلامي امارت سره اړیکې سړې او پیکه کړې، خو د رواني پېرۍ په دویمه لسیزه کې په قطر کې د اسلامي امارت د سیاسي ادرس له رامنځته کېدو سره سم ازبکستان یو ځل بیا له امارت سره اړیکې پالل پیل کړل. د ازبکستان د ولسمشر ځانګړي استازي به وخت نا وخت په قطر کې د اسلامي امارت د سیاسي دفتر له مسوولینو سره کتل او د سیاسي دفتر د رهبرۍ غړو به هم ځینې وخت دغه هېواد ته سفرونه کول.


د کابل تر فتحې وروسته ازبکستان یو له هغو هېوادونو دی چې د اسلامي امارت سفیر یې ومانه، له نوي نظام سره یې په بېلابېلو مجالاتو په ځانګړي ډول اقتصادي مسائلو

کې خپلو اړيکو ته لا پراختيا ورکړه او د دواړو هېوادونو تر منځ په لوړه کچه سفرونه ترسره شول.

د ۲۰۲۴ کال د اګست په اوولسمه د ازبکستان لومړی وزير ښاغلی عبدالله عارف اوف د کابينې له يوشمېر وزيرانو او تخنيکي ټيمونو سره کابل ته راغی. نوموړي د اسلامي امارت له لوړ رتبه مسوولينو سره پر سياسي او اقتصادي مسايلو خبرې وکړې او يولړ تفاهمنامې لاسليک شوې. د همدې سفر په تعقيب او د ازبېکستان د لومړي وزير په رسمي بلنه د اسلامي امارت د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ لوړ رتبه پلاوي چې په ترکيب کې يې يو شمېر وزيران هم موجود وو، د فبروري مياشتې په ۲۲مه نېټه ازبکستان ته دوه ورځنی سفر وکړ او پر مهمو اقتصادي مسايلو يې بحثونه درلودل. دا سفر د اسلامي امارت د مسوولينو د نورو ټولو سفرونو په پرتله ځکه د اهميت وړ و چې د اسلامي امارت پلاوی په رسمي مجالسو کې له خپل رسمي بيرغ سره راځرګند او د کوربه هېواد له لوري د رسمي استازو په توګه تعامل ورسره وشو. د دغه سفر ځينې مهم موضوعات په لاندې ډول دي:

۱- دا چې افغانستان د معادنو له کافي ذخايرو برخمن او داسې نادر عناصر لري چې د معاصر پرمختللي صنعت اساس تشکيلوي، ځکه د سيمې او نړۍ سترګې پرې خښې دي. ازبکستان هم د افغانستان په معدنونو په ځانګړي ډول د اوسپنې برخه کې پانګونې ته ليوالتيا ښودلې او په دې برخه کې د اسلامي امارت له لوري د هر ډول همکارۍ ډاډ ورکړل شو.

۲- دا چې افغانستان د برېښنا پېر او ازبکستان يې پلور ته اړتيا لري، له ازبکستانه د ۵۰۰ کيلو ولټ برېښنا مزي د غځولو پروژې پر عملي پيل او ژر بشپړېدو دواړو لوريو ټينګار درلود. ازبيک لوري ژمنه وکړه چې د قرارداد له لاسليک سره سم به يې په لسو ورځو کې عملي کار پيل کړي.



د يادونې وړ ده چې د دې پروژې اړوند ټول اسناد د افغانستان له لوري بشپړ او له ازبيک لوري سره د نظر اخيستنې په موخه شريک شوي دي.

۳- د افغانستان او ازبکستان ترمنځ سوداګرۍ د پخوا په پرتله اوسمهال زياته شوې ده او دا د دواړو هېوادونو تر منځ د ښې همغږۍ او همکارۍ پايله ده. په دې سفر کې د نورو موضوعاتو ترڅنګ د دواړو هېوادونو تر منځ د غير متوازن سوداګريز بېلانس په اړه هم خبرې وشوې. له ازبيک لوري وغوښتل شول چې د افغان کرنيزو او صنعتي محصولاتو اخيستل زيات کړي، څو په دې سره په سوداګريز بېلانس کې نسبي توازن رامنځته شي. ازبيک لوري ومنله او زياته يې کړه چې د ازبيکستان او افغانستان تر منځ به د ترجيحي اقلامو د توافقنامې له لاسليکېدو سره نسبي بېلانس ته ورسېږو.

د ترجيحي اقلامو توافقنامه د افغانستان له لوري تر کار لاندې ده او تمه ده چې ژر به بشپړه شي.

۴- د دواړو هېوادونو د مسوولينو ترمنځ په ليدنو کتنو کې ټينګار وشو چې د افغانستان په خاوره کې هم بايد د ترمز په څېر مشترک بازار رامنځته شي، څو د دواړو هېوادونو توليداتو او محصولاتو ته مشتريان اسانه لاسرسی ولري او مارکېټ ورته ميسر وي.

۵- اسلامي امارت پلان لري چې له حيرتان څخه تر هرات او له هغه ځايه د کندهار تر سپين بولدک پورې د اوسپنې پټلۍ شبکه وغځوي، څو منځنۍ اسيا له جنوبي اسيا سره وصل او په عين حال کې ازبکستان، ترکمنستان، ايران او پاکستان هم يو له بل سره ونښلوي. د لومړنيو څېړنو له مخې، د اوسپنې پټلۍ دا مسير د افغان-ټرانس اوسپنې پټلۍ شبکې په پرتله چې له حيرتان څخه پيل، له مرکزي ولايتونو څخه په تيرېدو د پکتيا په خرلاڅۍ کې له پاکستان سره وصلېږي؛ هم کم مصرفه او هم يې مسير لنډ دی. افغان-ټرانس په خپل مسير کې له غرونو په تېرېدو لسګونو کيلومترو تونلونو ته اړتيا لري چې لګښت زيات او پلي کول يې ډېر وخت اخلي. په داسې حال کې چې له شمالي ولايتونو تېرېدونکی د اوسپنې پټلۍ دا نوی مسير له هوارو ځمکو تېرېږي.

د اوسپنې پټلۍ د دغه نوي مسير د هرات-کندهار فاز د سروې او ډيزاين چارې د فبروري په مياشت کې د اسلامي امارت له لوري پيل شوې. ازبکستان ته د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال په وروستي سفر کې ازبيک لوري ژمنه وکړه چې له حيرتان تر هرات پورې د

غځېدونکي فاز د سروې لپاره به خپل تخنیکي ټیم په لنډ وخت کې افغانستان ته راولیږي او په خپلو لګښتونو به یې چارې پیل کړي.

افغانستان د وارداتو او صادراتو په برخه کې تر ډېره د پاکستان او ایران پر لارو متکي دی او له چین ډېری سوداګریز توکي د همدې هېوادونو د سمندري لارو په واسطه صادر او واردوي. ځینې ګاونډیان د افغانستان له دې اړتیا د سیاسي وسیلې په توګه استفاده کوي. د افغانستان د کرنیزو محصولاتو د رسېدو پر مهال په یوه او بله بهانه لارې تړي چې له امله یې هر کال افغان بزګران لسګونه میلیونه ډالر زیانویني. د اوسپنې پټلۍ یاده پروژه د هغې سلسلې کړۍ ده چې افغانستان یې په وسیله د ازبېکستان او قرغېزستان له لارې له چین او روسیې سره د وصلېدو پلان لري او په اړه یې له یادو هېوادونو سره خبرې اترې جریان لري. دا پروژه نه یوازې دا چې پر ګاونډیو د افغانستان اتکاء راکموي، بلکې د ایران او پاکستان د مسیرونو په پرتله هم لنډه او اقتصادي ده چې د سوداګرۍ حجم به ورسره زیات شي. د پاکستان او ایران له لارې له چین د افغان سوداګرو مالونه لږ تر لږه په ۴۰ ورځو کې را رسېږي، خو په دې مسیر به له ۱۲ تر ۱۵ ورځو وخت ونیسي او لګښتونه به یې له ۱۵ څخه تر ۲۰ سلنې را ټیټ شي. د افغانستان له پاره د یادې پروژې اهمیت ته په کتو، ویلی شو چې دغه پروژه د یاد سفر له تر ټولو مهمو مطرح شویو موضوعاتو څخه وه.

۶- ازبیک لوري په افغانستان کې د کرنې په برخه کې د پانګونې په موخه د ځمکو تقاضا وکړه. دا چې د افغانستان شمال د کرنې له پاره پراخې او مناسبې ځمکې لري او د قوش تیپې اوبه پرې سپرې دي، افغان لوري د پانګې د جلب او د اقتصادي اړیکو د پراختیا لپاره د ځمکې د ورکړې په اړه خپل چمتووالی ونښود. دا چې ازبیکستان به له دې ځمکو څخه د کوم زراعتي محصول د تر لاسه کولو لپاره استفاده وکړي، وروسته به معلومه شي؛ خو د کرنې په برخه کې د ازبیکستان د پانګونې تمایلاتو ته په کتو ښایي تاشکند د ټوکر صنعت لپاره د خامو موادو د تهیه کولو په موخه په دې ځمکو پنبه او یا هنجه وکري. د یادو کرنیزو محصولاتو کښت په افغانستان کې د کوکنارو د ښه بدیل په توګه د خلکو پام ځانته اړولی او ازبیک سوداګر یې هم په پراخه کچه پېري. د معلوماتو له مخې، ازبېکستان هنجه د خپلې ځانګړې استفادې لپاره پروسس کوي او هم په هند کې ستر مارکېټ ورته لري.

د افغانستان او ازبېکستان تر منځ اوسنیو سوداګریزو او اقتصادي اړیکو ته په کتو تمه کېږي چې دغه دوه ګاونډي هېوادونه به له یو بل سره د دیني، کلتوري او ژبنیو مشترکاتو درلودلو له امله خپلې اقتصادي اړیکې نورې هم پراخ کړي او له دې پرته به په نورو بېلابېلو مجالاتو کې هم همکاریو ته لار پرانیزي.

## د بهرنیو اسعارو بیې

د کابـل په شهزاده سـرای کې د افغانۍ پر وړاندې د بهرنیو اسعارو د نن ورځې بیې



| اندازه | پولي واحد | پېرل | پلورل |
|---|---|---|---|
| ۱ | امريکايي ډالر | ؋۷۰,۵۰ | ؋۷۰,۶۰ |
| ۱۰۰۰ | پاکستانی کلداري | ؋۲۴۲ | ؋۲۴۲ |
| ۱۰۰۰ | ايراني تومن | ؋۱,۲۸ | ؋۱,۲۸ |
| ۱ | اروپايي يورو | ؋۷۶,۷۰ | ؋۷۶,۸۰ |
| ۱ | روسي روبل | ؋۰,۸۲ | ؋۰,۸۳ |

| اندازه | پولي واحد | پېرل | پلورل |
|---|---|---|---|
| ۱۰۰۰ | هندی کلداري | ؋۸۱۱ | ؋۸۱۲ |
| ۱ | انګلیسي پوند | ؋۹۱,۲۰ | ؋۹۱,۳۳ |
| ۱ | سعودي ریال | ؋۱۸,۸۰ | ؋۱۸,۸۳ |
| ۱ | اماراتي درهم | ؋۱۹,۲۰ | ؋۱۹,۲۲ |
| ۱ | چیني ین | ؋۹,۷۴ | ؋۹,۷۵ |

